# حمد

غټ اوسترئې بې پایانه لویه خدایه لویه خدایه
تاته ټوله پررکـوع دي تاته هرڅه پرسجد ودي
چي هرڅه درلره بویه ښه دي نیت اوښه دي خویه
ستاپه ذات کي ویل نسته بیله تا مو ژوند ون نشته
جــهـان ستا په تمنا دی که موزړه دی داپرتا دی
بس امید مـــودی وتاته کـــــه موژوندوی وسباته
داهـرڅه وتاته څه دي تـرواړه لاډیـــرواړه دي
که دټول نړۍ نعمت دی ټولـــه ستا دبـرکت دی
دانسان علم به څه وي که مریخ ته ئې خآته وي
دایوته ئــــې لا مکانه لــویه خدایه؛لــویه خدایه
په هرځای کي چي اوسیږېږ دایــوته باندی پوهیږې
که موږ هرڅومره پوهیږو بـیــاهم هیڅ نه په پوهیږو
خپل مقام کي برقرارئې زموږبادارئې زموږپاسدارئې
دننګیال بڅرکي تمنا ده دادنن څـــه تـــر سبا ده
تاته لاس ټول په دعایو پرقانون به ستاموږپا یو

# نعت

موږپه تاباندي نازيږو ستا پـــرلاره روانيږو
لاربنودته ئې دوګړ و تـــردې لاري قربانيږو
ستاپه نوردنيا روښانه هم به ستا په نوم ياد يږو
هم لاربنودئې وانسان ته هم شفيع ئې مسلمان ته
محمد(ص)خاتم ددين دی اولـــــين او اخيرين دی
هم په د به موږ يادېږو هـــم په د به ستايل کيږو
محمدچي نازولی دالله دی بيله شکه مصطفا دی
په نبيانوکې وروستی دی اولين اخيرهم دئ دی
معجزې ئـــې دي روښانه په قـــران کي دیَ پريمانه
داهرڅه چی نن عيان دي داپـــرسرد مسلـــمان دي
د مظلوم پرسرظالم تـــه د نــــاچارپرسرمجبورته
عدالت دده عا دت وو پرهرځـــای دده عزت وو
نااميدبه هغه څوک وي چي ئې وران دفکرکوروي
که هرڅومره ګناه کاريو خپل نبي(ص) ته اميدواريو
زه بخـــرکی ننګيالی يم هـــم په ده به بـــريالی يم

# ښوونکی

ښوونکی هغه څوک دی چي خپل عمرستاسودښووني اوروزني د پاره تیره وي .او تاسي د ژوند په چارو پوهوي،ښوونکی وتاسوته داسي لباس دراغوندي، چي په هرځای کښي ستاسواحترام وسي اوپه علمي ـ ادبي زیورمو ښکلی کوي.

ښوونکی کوښښ کوي چي، تاسووپوهوي،علم اوادب د رزده کړي.تاسو ته داسي شتمني درکوي چی هغه نه خلا صیږي.

نوځکه ښوونکی د موراو پلار په څیر پرتا سو باندي حقداردی.که موراوپلارزموږ اوستاسوجسماني پالنه کوي،خو**!** ښوونکی موپه روحي لحاظ ساتنه کوي. اوښوونه اوروزنه راښوي.نو پرموږ لازمه ده چي دښوونکي احترام د موراوپلار په څیروکړو.نوځکه لازمه ده چي هروخت دښوونکي وخبروته متوجې شو.اودښوونکي هره خبره په غورسره واورو.

په ټولګی کي یوازي دښوونکي خبروته غوږونیسو.

ښوونکي ته شعر

وهرږغ (غږ) ته زه حیران وم

و ښـــوونـــکي تـــــه احتیاج وم

داپه دې چي زه هیڅ نه پوهید لم

خامخا وښوونځی ته به ورتللم

چي مي زده کـــــــړه لږاوږد ير

پرد رســـونـــو ســـو لـــم تير

چـــي هـــرڅـومـره پوهيدلم

هــم هغومـــره ښـــاد يد لـــم

دهـــوسه خـــنـــد يد لـــــم

په کـــرارکـــراربه جـوړيد لم

هره ورځ چي دمکتب څخه را تللم

تـــر پخوا لاهـــم هـــوښيار يد لم

اوس هر څه راتـــه اشـــنـــا ســـوه

هـــغـــه ورک را تـــه پـــيـــداســـوه

هـــغـــه څوک چی هـــوښياران سوه

دښوونکي په کارون پسې روان سوه

دلارښـــود مـقـام ته ګـــــــوره

دانـــړۍ ئـــې کـــړلـــه جـــوړه

اوس هر څـــــــه چي زه پـوهيږم

په ويـــلـــو ئـــې ويـــاړيـــږ م

را زده ئـــې کـــــړه کـــســـبونه

رامـــعـــلوم شـــوه کـمـــالـــونه
دلاربنـــود مـــقـــام تـــه ګـــوره
هم مـــوپلا رســـوهـــم مـومـوره
هـــغـــه څـوک چي ډاکټران سوه
هـــغـــه څـــوک چـــي معلمان سوه
کوم څـــــوک چـــی انجنیران سوه
یـــاهـــم ولاړه پـیـــلـــو ټـــا ن سوه
څـــوک چـــي نـــجـــاران ســــــوه
څـــــوک هـــــم اد یـبـــان ســــوه
څـــــوک تـــــاریـخ پـــوها ن ســـوه
نـــوڅـــوک چي هـــوښـیـــاران سوه
پـــه لاربنـــودپـــسي روان ســــــوه
پـــرکـــــوم چـــاچـــې عـــزت نه ؤ
دغـــفـــلـــت پـــه خـــوب بـیــده ؤ
ننګیالی زه عـــزت داریم
دې مقام ته لاس په نام یم

# ښه شاګرد

ښه شاګرد هغه څوک دی،چي تل پاک اوصفأ ګرځي.اوښوونځی ته پرخپل وخت حاضریږي.په لاره کي مشرانوته سلام اچوي.

دموراوپلاراحترام کوي،خپل کتابونه پاک ساتي،دښوونکي خبروته ښه غوږنیسي.اوڅه وخت چي دښوونځی څخه دکور پرلوری روان شي،نوپه لاره کي په ناحقه شیانویا څیزونو نه بوخت کیږي.اوژر،ژرکورته راځي،په کورکي دښوونځی ورسپارل شوی کورنی کارپه ښه توګه سرته رسوي.په کورنۍ کي دمشرانو څخه په نیکو کارونوکښي مرسته اخلي.اودخپلو کوچنیانووروڼواوخوندوسره په درسونوکښي مرسته کوي.خپل کالي پرمیدان نه غورځوي، کالي ځړوي،خونه او خپل کورپاک ساتي.دموراوپلارسره په کارونوکي مرسته کوي.درواغ نه وایي اودښوکارونوپه کولوسره نوم لري.

ښه شاګردیازده کونکی دخپل ځان دپاره ورځنی تقسیم اوقات لري،دسهارڅخه بیاترماښامه دهم هغه تقسیم اوقات پربنسټ خپل ورځنی کارونه مخته بیا ئي،نوځکه ئې ټوله کارونه په ښه توګه پرمخ ځي اوهرکارئې پرخپل وخت سرته رسیږي.

## ږغونه

**شاعر:ابوالخیر ځلاند**

خوند ریزدمینا کوي هم طوطي وینا کوي
چرګه کړ،کړې وهي زرکه ککړي زما کوي

تورکارګه کاغ،کاغ لري زیــری چــي پرچــاکوي

مــیــږي چي بررن کــوي وري اومبا ،اومبا کوي

وزې وهـــي بــغــاري تل هم رامبوړي غـــوا کوي

غـــرغـــړې داوښ عــادت خـــرغـــریب ریــا کـــوي

بخت په هغه کورکې وي آس کي چې شــیــشـــناکوي

پیشي همیش میو،میوکوي پـــتــه خـــوله بیاغـــلا کوي

یوبل تـــه غــــرږی لري بــل هـــم سپی غـــپـــا کـــوي

انـــګـــولي دشپې چیغال نـــرزمری غـــوړومبا کوي

ژبه هـــر ساه دارلـــري هـــم جـــلا ګـــفـــتـــار لـــري

څه وخت چي ږغیږي دوی یـــوپــه بل پوهیږي دوی










## ټوکه

په ښوونځی کي ښوونکي دزده کوونکوڅخه پوښتنه وکړه، څوک غواړي چي سپوږمۍ ته وخیژي؟.ډیروزده کوونکوګوته پورته کړه.اوپه یوه ږغ ئې ناري کړې چي زه غواړم سپوږمۍ

ته ولاړسم.ښوونکې ولیدل چي یوه زده کونکې ګوته پورته نه کړه.اوچپ ناست دی. نو! ښوونکې نوموړي زده کونکی ته متوجې سو.اوپوښتنه ئې ځینی وکړه،ته ولی نه غواړې چي سپوږمۍ ته ولاړسې؟.

هلک ځواب ورکړ: چي زما مورماته ویلی دي؛چي مخامخ به ښوونځی ته ځې اوبیرته به ژرکورته راځې. اوبل چیري نه سې تلای.

## زړه سوی پرحیواناتو

حیوانات یاژوي هم دانسانانوپه څیردرداوخوږلري.دګرمۍ اویخ په وخت کي په ګرمۍ اویخ باندي پوهیږي،غم او خوشحالي لري.که انسان مینه ورسره وکړي،نوحیوانات هم مینه ورسره کوي.که د حیواناتوسره ظلم اوبد چلند وسي، نوحیوانات زهیر یږ ي.همدغسي ټوله حیوانات وژوند ته ضرورت لري.اوخپل پایښت غواړي،پرهغوی خپل بچیان ګران دي.او دانسانانو په څیر مینه ورسره کوي.نوموږته لازمه ده چي پرحیواناتو باندي زړه سوی ولرو.حیواناتوته دژوندډیر ښه شرایط برابرکړو.اوپه هغه څه چي خوشحالیږي مرسته ورسره وکړو ،خوشحاله ئې کړو.اوژوند ئې وروساتو، څوو کولای شو چی له یوې خوادحیواناتو څخه لازمه ګټه ترلاسه

کړو،دبلي خواخپل انساني چاپیریال په حیواناتو باندي ښکلی وساتو.داپه دې چي ژوي بیل،بیل ښکلي رنګونه اوډولونه لري.

دانړۍ یوازی دانسانانونه ده.بلکي؛نورژوي هم ددې نړۍ ژوندي موجودات دي.

## زما هیواد

زما هیواد افغانستان دی بیله شکه پرما ګران دی

تاجک ازبک مي ورونه دي ګډ،ګډموکورونه دي

ښکلی مو هیواددی زموږ وطن افغانستان دی

غټ،غټ موکورونه دي شنه،شنه موباغونه دي

ښکلی شنې ویالې لري د ښتي او د رې لري

دنګ ځلمي ښایسته ځوانان زموږ هیواد افغانستان

بلوڅ وی که هند وي پشئي که نورستاني وي

ویاړونه تاریخي لري ښه خویونه افغانی لري

نوم بې لوړکړوترآسمان زموږ هیواد افغانستان

منارې هم تاریخي لري موزیمونه باستاني لري

شنې ویالې باغونه شته جګ،جګ چینارونه شته

ستر آمو هلمند لري ارغنداب ښایسته ګلشن لري

# نوم لري غازيان زموږ
# غازی عبدالله خان زموږ

شاعر: ننګیالی بڅرکی

## لوبي

لوبي يا بازۍ ډول،ډول دي.اوپرڅوبرخوويشل شوی دي.

لکه:دنجونولوبي،دهلکانولوبي،دغټانولوبي،دوړوماشومانولوبي اوداسي نورډولونه،لوبي هرډول چی وي دسپورټ اوتفريح دپاره ترسره کيږي.اوهره لوبه ځان ته خپل قانون لري،چي په هغه قانون بايدلوبغاړی وپوهيږي.څودلوبوڅخه خوند واخلي.

زموږپه هيوادافغانستان کي دغه لوبي ډيري دوداورواج لري.

لکه: دناوکۍ لوبه،اناګۍ لوبه،پټيدنګی،نيونکي،خاله بازي،جزء بازي،اوداسی نورډولونه،چي په عمومی توګه دغه پورته لوبي دنجونولوبي شميرل سوی دي.

ولی!دهلکانولوبي بيا دنجون دلوبوسره توپيرلري.دهلکانو لوبي يوه اندازه درنې اوستړی کونکي لوبي دي.لکه:بيجلی ،مردکی ،توپ ډنډه،کاغذباد،غيږايستل،هګۍ جنګول په اخترونو کښې، فوټبال،والي بال ،درنه خط ،بزکشي ،آبازي اوداسي نوري لوبي دی چي هلکان اونجونی ئې ترسره کوي.

نوکه لوبي هرډول وي ،په هغه صورت کی ګټوری تماميږي، چی دلوبووخت،دلوبوقوانین اودلوبوځایونه په پام کی ونیول شي.که چیري موږددرس په وخت کي هم لوبي کوو،نولوبي ګټه نه لري.یا که موږته دلوبو قانون نه وي رامعلوم،نوهم دلوبو ښخه خوندنه سواخیستلای.ځکه لوبه ناسمه استعمالو،همدغسي باید دلوبو ځای په نظرکي ونیسو،ځکه هره لوبه ځانته ځای او میدان غواړي،دبیلګې په توګه:که موږکاغذباددموټرپرسړک یادبام پرسریا بل کوم خطرناکه ځای والوزؤ،نوبه موځان دموټر دخطرسره مخامخ کړی وي،یابه مودبام درالویدودخطرسره مخامخ کړی وي.یاکه موږپه داسی ځای کی لوبي کووچی هلته پاکه هوآ نه وي،دوړي اولوګی وي،نوزموږوروغتیا ته دګټي پرځای تاوان رسوي.داځکه چي دانسان وجوددلوبوپه وخت کي وپاکي هوآته ډیرضرورت لري.اوهمدغسی دلوبوښخه وروسته چي دانسان بدن ډیری خولې کوي بایدځانونه پریمینځو.چي اوجودمودخولوښخه پاک سي،چي دځان پر یمنځل دروغتیاسره مرسته کوي.اوزموږوجودته ګټه رارسوي.که ځان پرینولل سي،نوزموږداوجودیابدن بوی زموږ دښنګ ملګري اودوستان په تکلیف کوي.باید بدن پریولوښودناروغی ښخه هم وساتل شو.

## ټوکه

ملانصرالدین یوه ورځ پر چوکی ناست ؤ.اویوه پخه کړې هګی ئې په غاب کښي ومخي ته پرته وه.او په خوړلوئې پیل وکړ،په

دغه وخت کې یوانډیوال راغلی؛ملاصاحب ئې ولیدی،غږئې پروکړی،څه کوي ملاصاحب پرچوکۍ ناست ئې هګۍ خورې؟ ملاصاحب هم په تعجب سره ورته وکتل اوسمدلاسه ئې جواب ورکړی،وې ویل:نوڅه وکړم؛نوپرهګۍ کښینم چوکۍ وخورم.

## بله ټوکه

دملانصرالدین ښځه چاه وپوښتل:ملاصاحب دځوانۍ او زوړوالي ترمنځ دي څومره توپیرکړی دی؟.

ملاصاحب وویل :هیڅ توپیرمي نه دی کړی . ملګري ئې په تعجب پوښتنه ځیني وکړه چی ځنګه دي توپیرنه دی کړی؟.

ملاصاحب وویل: ګوره ماپه ځوانۍ کښي هم دغه ډبره نه سوای پورته کولای اواوس ئې هم نه سم پورته کولای.اوس نو ته ووایه : چي څه توپیرمي کړی دی.



دملانصرالدین عکس

## دتورګل کور

تورګل او یونس ګاونډیان وه.ددوی دکوردروازې په یوه کوڅه کښي را خلاصیدې،خو!دتورګل کورغټ دی اوشپږکوټې لري.

دکورپه منځ کې يوښکلې باغچه ده.په باغچه کښې پررومیانو اوسبزیوبرسیره ډیرښکلي ګلان هم کرل سوي وه.دباغچې په ځلوروکونجونوکښې دنارنجووني هم لیدل کیدې.چې دپسرلي په وخت کي دنارنجوددرختي یاوني ګلان ډیرښه بوی هم لري.دتورګل دکورختیځ لوري ته ویاله بهیږي،دلودیځ لوري ته ئې سړک تیرسوی دی.قطب(شمال) ولوري ته ئې دنجونو ښوونځی پرته ده،دسویل (جنوب) لوري ته ئې یوشین چمن دی،چي تورګل اویونس هره ورځ وروسته له درس ویلواو کورنی کارکولوڅخه لوبي په چمن کښي کوي.دتورګل کورډیر ښایسته دی اودتورګل پلارمهربانه سړی دی.دباغچې ترکاري اونارنج وګاونډیانوته دمرستي په توګه ورکوي.دشاه وخوا ګاونډیان دتورګل دپلاره څخه ډیرخوښ دي.اوټول وخت ئې په ښوستاینوسره یادوي.تورګل هم دپلاروخبروته غوږ نیسي، دتورګل پلارپه درسو کي دخپل زوی تورګل سره پوره مرسته کوي، چي په همدغه سبب تورګل په ښوونځی کي په لومړۍ درجه بریالیتوب سره بریالی کیږي.اودښوونځی درخصتید وڅخه وروسته خپل کورته راځي .اوپه کورکي هم دپلاره سره په باغچه کي کارکوي.

## کمبلۍ یا پروانه

ښکلـــې کــمبلۍ یــم زه    الوت کښي ګړندۍ یم زه

وزرمي په ښورنګه رنګ    هم سپينه هم چرګۍ يم زه
کوچنيان وائې په څه پايم؟ د کوم ولات پــرۍ يم زه
نووادي وري دوستان زما   په ګـــلو تل ژوندۍ يم زه
تل اوسم په باغونــوکښي   دګـــــلو ليــونۍ يــم زه
دګل په رنګ زه رنګ يمه دګـــل رنګـــه تنکۍ يم زه
دوی ګرځي چي په ما پسي   نـــوپـتـــه ترغوټۍ يم زه
کـــوچنيان ځـــکه پرمامين کوچني دي دوی،کوچنۍ يم زه
مـــامـــه نيسۍ ، ما مه نيسۍ   ژونــدۍ په آزادۍ يـــم زه
په قيد کي هيڅوک خوښ نه وي   خوښ نه يم چي بندۍ يم زه

**ابوالخير ځلاند**

## متلونه

کـــوږبا ر تر منزله نه رسيږي
ژرنده که د پلارده هم په وار ده
چي اوسې په خوی به دهغوسې
مه کوه په ما چی وبه سي په تا
تربيعقل دوست هوښياردښمن ښه دی
تر کا ښي د بيزو کار نه دی

چي کرې هغه به ر يبې

دچاعیب مه وایه چي عیب دي ونه ویل سي

بیعقل دومره په بل نه کوي لکه په ځان

دزوروراوبه پرلوړه خیژي

په یوه ګل نه پسرلی کیږي

لمرپه دوګوتو نه پټیږي

مارخوړلی درسپاند ځخه بیریږي

شید و سوځلی مستې پوکي

پوره ورک دي کړه دوه کوره

پیاز دې وي په نیاز دې وي

دوست ته حال وایه دښمن ته لاپي

دناست زمري ځخه ولاړ ګید ړښه دی

دبدزوی دلاسه ښه پلارښکنځل کیږي

شرمښکۍ دماره سره غځیدل پرمنځ دوه ځایه سوه

خپله لاسه ګله لاسه،کنجۍ ړکه،ړکه باسه

څوک ځان جوړوي ،څوک بیا جهان جوړوي

څه ژرنده پڅه اوڅه بیا غنم لانده

# ښوونځی

ښوونځی دښووني اوروزني ډیرښه مرکزدی.زموږ د کلي ښوونځی ډیره ښکلې ده،پراخ چمنونه لري،دولیبال،فوټبال اودنورولوبودپاره پراخ ډګرونه لري.موږپه ښوونځی کي د تفریح اودسپورټ په ساعت کي په چمن کې لوبي کوو.خو!په درسي ساعتونوکي درس وایو.اودښوونکی خبرواودرس ته غوږنیسو،ښوونځی زموږدکورڅخه یوکیلومترلیري پرته ده،زموږدښوونځی درسي کوټې روښانه دي،څه وخت چي سر ښوونکی صاحب موږته پرپیل وویل:چي دښوونځی پاکوالی بایدوساتل سي.نوموږهم اوس دخپل ښوونځی پاکوالی ساتو. کاغذونه په هرځای کښي نه غورځوو.اوهمدغسي په هغه څه چي زموږ ښوونځی ته زیان یا تاوان رسیږي،نودهغه څخه ډه، ډه کوو.زموږ دښوونځی پاکی اوبه دي.چی دبمبې په وسیله دڅاه څخه راایستل کیږي،خو!دښوونځی باغچه اوچمنان بیا دویالې په اوبوسره اوبیږي،ځکه چي زموږهیوادرودونه، روانی اوبه اوداوبوډکي ویالې ډیري لري.نوځکه زموږ هیواد یوزراعتي هیواد بلل سوی دی.او ډیري رنګ رنګ میوې هم لري.خو؛زموږدښوونځی ونی بې میوي وني اوچیناران دي. چي دښوونځی هوائې ښکلې کړې ده.

# دطوطي نقل

مولادادپروند د تورګل ددکان څخه یوربړرانیوی.او هغه ئې په دوښاخه پوري وتړی،یو کلک غولک (ددوښاخي ربړ)ئې ځیني جوړکړ.نودباغچې پرلوررروان سؤ.اودمرغیوپه ښکارئې پیل وکړ،پرڅومرغیوئې دغولک په ذریعه ددبري واری وکړ،خو! وارئې خطاولاړی،نابېره په دې وخت کښي یوښکلی طوطي راغی اودیوې ونې دښاخ پرسرکښیناست.مولادادغلی شانته ورنژدې شو.اودربړ(غولک) واری ئې پروکړی،ښکلی طو طي ئې ډیرسخت پروزرزخمي کړ،طوطي والوتی اوپه دې زخمي وزرئې باغ ترک کی.اوخپل غاریا کورته ئې ځان را ورساوه،وزرئې په وینو لژنده سورؤ.ددرده ئې اوښکي پر،پر توئېدې دخپل غارپه یوه ګوښه کښې کښیناست.کوچني چیچیان ئې پرراټول شول.اوخولې ئې ورته خلاصي کړې.بچانوئې امیددرلود،چي ګواکي زموږپلاربه موږته خواړه راوړي وي. ولي؛داسي نه وه.... ځکه دپلاروزرئې دیوه ظالم ښکاري دهوس ښکارسوی ؤ.نوځه وخت چي دطوطي ښځه کورته دیو څه خوړوسره راغله ؛ که ګوري چي دمیړه وزرئې په وینو لژنده دی.اوډیرپه تکلیف دی،نوئې لومړی سمدلاسه خپلووړو چیچانوته خواړه ورکړه.او هغه ئې ارام اوماړه کړه.

اوبیا ئې دخپل میړه وزروکوت پوښتنه ئې ځینی وکړه،چي داټوله څنګه پیښه سوه؟ . طوطي دهغه ظالم مولاداد کیسه داسي

ورته وکړه ؛اووې ويل :څه وخت چې زه باغ ته ولاړم،نودتوت يوه پخه دانه مې وموندل،هغه ته ورنژدې سوم،لاندي مي وکتل چي يونفرزما لوري ته راروان دی.ماداسي فکروکړچي؛ نوموړی هم زما په شان يوژوندی دی .او هغه هم زما په ډول ځان اوچيچيانوته غذابرابروي.ماډيرانسانان ليدلي وو.چي ماته به رانژدې شول نه داچي زيان ئې نه دی رارسولی بلکي؛ غلې دانې ئې هم راکړي دي.خودې نامرده زه بې ګناه زخمي کړم.اوپه پټه زما خواته راروان ؤ.مادانتيجه ترلاسه کړه هغه کسان چي په پټه زماخوايا لوري ته راځي،هغه غله دي او بيره ځيني په کار ده.

طوطي وويل: دادنيازموږ.اودانسانانوترمنځ يوګډکوردی،موږ.په دې باغ کي حق لروچی ژوند وکړو.موږ.به په باغوکی ترانې وايو،سازونه اواوازونه به کوو،چپه چوپتيابه دمنځه وړو. خوشحالي اوتراوت به دباغونواوشاه وخواساتو.ايادابه زموږ دټولوژواوانسانانوپه ګټه نه وي؟.دطوطي ښځي چي دخپل زخمي ميړه خبري په غورسره واوريدې؛نووې ويل:سوله او دطبعت سره يوځای ژوندکول زموږ.دغه نړی خوشبخته کوي. خو هغه څوک په دې پو هيږ.ي چي هغه دخپل باغ،کوراو هيواده سره مينه لري.کنه!موږ.به هم ددوی دغه باغ خالي،خاموشه پريږ.دو.اوس به نوزه يوازي دبچيانو دپاره خواړه برابروم. اوته استراحت وکړه.



**داحمد شاه بابا دعلمي ـ ادبي ټولنی د ترانې ګروپ**

## دوطن ترانه

ای زما وطنه ، دلا لــونوخــزانې زما

ستاهره دره کې دي دتوري نښانې زما

زه یم ستادخاوري ته زما دمینې جوړه یې

ته مي دغیراودعزت رنګینې جوړه یې

ته مي دنیکه اودبا با د و ینې جوړه یې

ستازړه کې ویدې دي ټولې تللي زمانې زما

**ای زما وطنه ،دلالونو خرانې زما**

سترګې مې لوګی شه ستادخاوروله کورونونه

عقل مې ایرې شه ستا له پاره له فکرونونه

جارشمه،قربان شم ستادغرونودسیندونونه

ستاهره دره کې دي دتورو نښانې زما

ای ! زما وطنه ،دلالونو خزانې زما
ستاعزت چې نه وي زه به نوم اوعزت څه کړمه
ته چي خواروزاريې زه به خوب اوراحت څه کړمه
ستاسرچي وي ټيټ،نوزه به شان او شوکت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وينې، مستانې زما

**ای ! زما وطنه دلالونو خزانې زما**

ياخوبه دي سيال کړمه وطنه دجهان
يابه ستاپه پښوکي توري خاوري کړمه ځان
زه به دړي،وړي شم خوتابه کړم ودان
نريمه افغان يم ،تاته ياددي افسانې زما
ای! زما وطنه دلالونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي دتوري نښانې زما

## افغانستان

افغنستان دافغانانوګډکوردی افغنستان ۳۴ولايتونه لري.چي مهم ولايتونه ئې عبارت دي:کابل،کندهار،هرات،بلخ،ننګرهار ،پکتيا،کندوز،غزنی،زابل،لغمان،هلمند،روزګان.اوداسی نور ولايتونه دي.په دې هيوادکې بيلا،بيل خلک په بيلا،بيلوژبو خبري کوي.چي مهمی اورسمي ژبي ئې پښتواوفارسي ژبي

دي.په افغانستان کي چي هرڅوک په هره ژبه خبري کوي آزاد دي.دافغانستان میشت دخلکوقومونه ټوله یودبله سره مینه لري. اودهیوادپه ټولوټولنیزوبرخوکې برابرحقوق لري.افغانستان یوآزادهیواددی،چي دلوی احمدشاه بابا دپاچهۍ پروخت دنوي افغانستان خښته کښیښودل سوه.مخکي افغانستان داریانا اوخراسان په نوم یادیده.هغه وخت چي لوی فاتح احمدشاه بابادافغانستان پرتخت کښینستی نوترټولودمخه ئې میشت قومونه سره راغونډکړه.اوداموڅخه تراټکه ئې خپل دهیواد سیمه وساتل،خودسیمي څخه دبهرمیشت قومونه ئې هم دافغانستان سره دهمکارۍ خواته تشویق کړه. افغانستان یو تاریخي هیواددی، چي دتاریخي ارزښت له مخي ۵۰۰۰کلن تاریخ لري.اوهمدغسي یوآبادزراعتي هیوادهم ګڼل سوی دی. چي میوې اوزراعتي توکي (شیان) ئې نړیوال شهرت لري.

په افغانستان کي ډول،ډول معدنونه شته لکه:طلا،لاجورد یاقوت،زمروت اوداسي نورچي دافغانستان شتمني ګڼل کیږي.

## اعلیحضرت امان الله خان

اعلیحضرت امان الله خان دامیر حبیب الله خان زوی او دامیر عبدالرحمان خان لمسی کیږي.چي دپلاردمرګه څخه وروسته په ۱۸۹۲م کال کي دجون پرلومړۍ نیټه زیږدلی دی. دپاچهي دوره ئې د۱۹۱۹څخه تر ۱۹۲۹م کال پوری وه.

اعلیحضرت امان الله خان یوترقي غوښتونکی پاچا وو.لومړی کارئې دانګریزانوپه مقابل کې داستقلال اوآزادئ اعلان وکړ. خودبده مرغه انګریزانودافغانانودغه آزادي ونه منل، نو اعلیحضرت امان الله خان دانګریزانوسره دجنګ اعلان وکړ.او انګریزان ئې ودې ته مجبورکړل،چې دافغانستان آزادي ومني.وروسته داستقلال دګټلوئې دهیوادپرمختګ ته مخه وکړه،لاري اوسړکونه ئې جوړکړل،دنارینواوښځودپاره ئې ښوونځئ جوړي کړې.خپروني پیل سوې،هیوادته نوی ماشین الات راوړل شوه.دهیواددسمسورتیا د پاره ئې دنړئ وګوټ، ګوټ ته نوي ځوانان دمسلکي زده کړودپاره ولیږدول.او دلومړی ځل دپاره په هیوادکي دروښانتیا د وره را منځته سوه،دسولي خوښوونکوهیوادونواودآزادوهیوادونوسره دوستي پیل شوه،په هیوادکښي دلومړي ځل دپاره دښځوپه خوښه لڅ مخي اوپه ټولنیزو،اقتصادي اوسیاسي چاروکي دښځوبرخه اخیستل آزاداعلان سوه.داعلیحضرت امان الله خان په وخت کي هیواد په پوره چټکتیا سره دترقئ اوپرمختګ پرلورروان شو.چي همدغه چټک پرمختګ بهرني دښمنان وارخطا کړه اوپه تلوارئې په هیوادکي دننه دهیواد داخلي دښمنانوسره لاس یوکړ.اوخپل جاسوسان اودترقئ ضدکسان ئې سره را غونډکړه. اودیوه نامتوغله دسقاؤدزوی غل حبیب الله په مشری ئې چي دانګریزانوملاتړئې د رلود اړو دوړراپیل کړ،په هیوادکي نا

ارامي را منځته سوه،امیرامان الله خان ونه غوښتل چي دخلکو ویني توی شي،نوئې په ۱۹۲۹م کال کي پاچهي بریښوده او دهیوادنه دتل دپاده ولاړی.

## دوعا

خـــدایه ! زموږ هـیـوادآبا د سمسورکړې
راخوشحاله موټول خلک کور،په کورکړې
مـــوږ په عـلم ښایسته په تن موپېټ کـــړې
دکلنودخوښیواوښادیوارمان هم راپوره کړې
داهـــیـــواد مو هیڅ احتیاج وچاه ته نه کړې
په ډاکټر،انجنیرموخپل هیوادسمسورتازه کړې
چي غـــمــخوردهـــرناجـــوړاونا سمسورسم
لـــوږدعـــلـــم او ښا ن نا ره خـــپـــره کړم
دنیکـــۍ پرلارمـــي پل دســـم قـــدم کړې
هم ښا یسته مي په عمل او په نظـــرکړې
زمادرخواست دی پاکه خدایه ستادربارته
چـــي مـــي سیال کړې دسیالانوومیدان ته
نیکـــي را کـــړې پرعمل مي برکت کړې

پــرصـــفـــاتو اعــلاوه مـــی صدا قت کړې
دظـــالـــم ومخ تـــه سپرلـــکـــه فولاد سم
دغــــريــبــو شاتــه وړزه د د فـــــاع سم
بيا داخپل هيوادبه جوړکړم په خپل موټـــو
دبابا اودنيکه زړونه به ښاد کړم په دې ګټو
داهــــيــــواد به بيا سمسورکړم په خپل مټو
مالداري اوزراعت به موسي لاره خپل دګټو
خـــــدای! ته مود نفاق دمرض خلاص کړې
خـــــدايه !ته مودمقاردښمن څه خاص کړې
موږدعا کړوچي موږته هغه غيرت راکړې
فقط يو همت داتحادموسرپرسرراته عطا کړې
دننګيال بڅرکي ا خيردغـــــه دعا ده
راسمسوره موپه همت بيرته کورګی کې

## خواپاکي

خواپاکي دژونديوه لويه برخه ده،چي انسان اړتيا ورته لري. دهرچانظيف اوپاک څوک ښه ايسي،خواپاکی انسان ټول عمر جوړاوصحت مندوي.

زمريالی ټول عمرخپل ځان او کالي پاک ساتي،هره ورځ چي دشپې بد يړ ي نومخکی تربيده کيدوخپل غاښونه په برس اوکريم سره مينځي.اوڅه وخت چي سهاردخوبه ولاړيږ ي،نولومړی خپله بستره ټولوي،اوبيا مخ لاسونه اوغاښونه برسوي.اوبيا پر خپل وخت چای چيښي ،خپلی ښوونځی ته ځی.په خاوروا و چټلوځايونوکي لوبي نه کوي.چي کالي ئې چټل اوخيرن نه سي،خو؛دښوونځی څخه وروسته دښوونځی کالي بدلوي.او دستي غسل خانې ياتشناب ته ځي.مخ لاسونه اوپښې پاکي مينځي،څودوجودخولې ئې پاکي شي.زمريالی په اونۍ کې دوه ځله لمبيږ ي،پرښوونکي ګران دی،دنظافت يا پاکۍ په مضمون کي ټول عمرپوره نمرې اخلي.

برسيره پردې چي دخپل ځان پاکوالی ساتي دکورشاه وخواهم ساتي،اونه پرېږدی چي د کورشاه وخوائې ناپاکه وي. د زمريالي ټوله دلوبوسامان پرخپلوځايونوپراته وي.اوهرځای ئې نه غورځوی چي دکورخواپاکي دمنځه وړي .دزمريالی خونه هم پاکه ده اوهرڅه ئې پرخپل ځای پراته وي.

## دګهيځ ننداره

په سهاريا ګهيځ کښي پاڅيدل ډيري ګټي لري.دسهارو ږمې ځانګړی خوند لري ، ځلمی هرسهاروختي پاڅيږ ي اودمخ دپريولوڅخه وروسته قدم وهي،ځلمي ته دسهاروختي قدم وهل

ځکه خوند ورکوي،چي په سهاروختي کي درنګارنګ مرغانو آوازونه لکه:دبلبل ،کنري ،توردلی، کوترو،طوطیانواونورو ډیرومرغانواوازونه خوند لري.سهاروختي چي لمرلاځرک نه وي وهلی ،دمرغانوپراوازونو برسیره دځینو حیواناتو اوازونه هم په زړه پوري احساسیږي.لکه: دآس شیشنی،دمیږواووریو غږونه (ږغونه)،دپسواو میږوپه رموکې دوړویا کوچنی وریانو ږغونه،دبزوبرږی،دشپانه دشپیلۍ اوتولکي نغمې اواوازونه ډیرخوند کوي.په سهاروختي کښي دطبعت ځیني ږغونه هم د پاملرني وړدي.لکه:دویالویاسیندداوبوږغونه اوشورهاری، د سهاردوږمې غږ یا ږغ،همدغسي دشینوباغو،درختواوشنوو ښو لیدنه،دغرودځوکولیدنه،درواناوبولیدنه،دونودپاڼوسرونه.

په شینه آسمان کې تاپي،تاپي وریځي ټول هغه څه دي چي، دسترګودیدته قوت وربخښي.اوپه دې ډول دسباوون دوږموسره دګلانوپه زړه پوري بویونه هم دعصابودپاره پوره ګټه رسوي.نوځرنګه چي ځلمی هرسهارښه ویني،ښه اوري اوښه بویه وي نوځکه ځلمی ټوله ورځ خوشحاله وي.

## ټوکه

یوه ورځ یوه دکانداریوه خه ره(کوټه)انګورمخی ته ایښی وه. اوناري ئې پروهلې...چی تازه اوغټ،غټ لیموراورسیدل، قسمت خوربه ئې خوري،تاسي وګورئ،تاسووګورئ څومره

ښه ليمودي.په دې وخت کې يولاروی تيريده،که ګوري چی دکانداردليموپرځای انګورپلوري،ليکن،نارې دليموپروهي، نو ئې ددکاندارڅخه وپوښتل اووې ويل :دکاندارکاکوداخوليمونه دي،داخوانګوردي،ته ولی دانګوروپرځای دليموناريې وهې، دکاندارو سړي ته وويل:رانژدې سه هغه سړی ئې هم وخواته را نژدې سو.دکاندارپټ په غوږکښي ورته وويل : چي سړی اکانارې مه وهه زه ئې دغالبوزوڅخه په پټه خرڅوم، چي غالبوزي خبري نه سي.

**ټوکه**: يوښوونکي دزده کوونکي پلارښوونځی ته راوغوښتی اوورته وې ويل: ستازوی ډيرتمبل دی سبق نه وايی دزده کونکي پلارمعلم ته وويل:مهربانی وکړه که زما زوی دسبق شوق نه درلودلای،نوپه هرصنف کې دری ځلورکاله څه کول؟.
**ټوکه**:يوډاکټرناروغه سو،ناری ئې وهلې،ويل ئې:ژرمی ډاکټر ته يوسی خلکوورته وويل:ته خپله ډاکټريی...يوشی وليکه؛ موږ به ئې ددرملتون څخه درته راوړو هغه ورته وويل:زمافيس ډير ګران دی.

## درواغ

درواغ ويل ډير بد کاردی،نو ځکه هيڅوک بايد ځان په درواغو اموخته نه کړي،دورواغجن سړی دهيچا ښه نه ايسي.اونه ئې

څوک وخبري ته ارزښت ورکوي.درواغجن خپل اعتبار دلاسه ورکوي،چي په دې باب دغه کيسه ډيره نامتو ده.

کيسه : وائي چي يووخت يوه شپانه ډيردرواغ ويل ټول وخت به ئې وکلي ته ورناري کړې،ويل به ئې:چي مه راګورى خلکو چي رمې ته مي ليوه (شرمښ) را غلى دى.خلکوبه هم په تراټه درمې اوشپانه وخواته وروځغستل،چي دشپانه سره مرسته وکړي،خو! څه وخت چي به خلک درمې خواته ورغلل،نه به ليوه ؤ اونه به بل څه؟.نوخلک به بيرته ولاړه،خودغه ددرواغو عمل څوځله نورهم تکرارشو.له همدې کبله شپانه ديوه داسي دروغجن سړي په څيرسره وپيژندل سؤ.چي بيابه ئې چا په ريښتياهم باورنه کاوه،بل وخت دشپانه رموته ريښتياليوه راګډ شو،خوشپانه چي هرڅه نارې کړې...خلکو!مه راګورى ليوه مي رموته راغلى دى،خلکوفکرکاوه چي شپانه بيا درواغ وائي، نوځکه ئې هيڅوک مرستي ته نه راغلل.اودشپانه ټولي ميږي، پسونه،بزې ئې ليوانوورمړې کړې.نوشپانه دخپلو درواغوله کبله ډيرتاوان وليدى،شپانه وروسته ددې پيښي دځانه سره لوړه وکړه چي هيڅکله به بيا درواغ نه وائي.ځکه: (ددرواغو منزل لنډوي).

# شعر

دروغ مه وایه! ددرواغو منزل لنډ دی
دروا‌غــجــن سړی ټول عمربې باوردی
باورد چاپرې نه وي دهیچانه وي ملګری
امیددچاپرې نه وي نه ئې لاس دچا نیولی
بې غیرته ئې وجدان وي په درواغوبلدکړی
ریښتیا ښه دي په ریښتیا ژوند ون ښه ایسي
درواغ ښه نه دي سړی بداموخته کيږي
نوم نښان ئې خرابيږي دباوره څخه لويږي
دی دځانه سره بدکړي اعتبارځيني ټوليږي
که د ژوند ښکلادي غواړې دهمت ملګری وکړه
دغیرت درجې ټولي په ریښتیا کي معلوميږي
مؤقتي به څوک خطا کړې ترابده نه چليږي
صفت دهغه وي چي ئې پل پر پل ریښتیا وي
دننګیال تجربیه داده په درواغو نه چليږي
که دي نوم نښان وي ترآسمانه پوري تللی

# وپلارته دخيريت يوليک

ګرانه پلاره:زه شکردی روغ اوجوړيم،ستاسي جوړتيااو روغتيازمايوازنی ارزوده.دښوونځی ازموينه مي په خيرخيريت سره تيره سوه.اوس ددريم ټولګی څخه وڅلورم ټولګی ته بريالی سوی يم.غواړم چي دښوونځی پردرسونوبرسيره دانګليسي ژبي کورس هم تعقيب کړم.ځکه چي دمورمي هم دغه خوښه ده،په کورنۍ کی هم ټوله روغ اوجوړدي.خپل سلامونه هريوپه جلا،جلا توګه درته وايي.

ګرانه پلاره:که چيري راتللې اوکارونه دي نورنه درلودله، نوماته به دڅلورم ټولګی درسي کتابونه هم دځانه سره را وړي،څوزه درخصتۍ په ورځو کښي دهغه څخه ګټه واخلم.

نورنوداسي ځانګړې موضوع نه سته چي درته وئې ليکم ،تر ليدوپوري دي پرمهربانه اوبخښونکي خدای سپارم.

ستاسي زوی بريالی.




ښه شاګردان

# مشرورورته لیک

ګران اومهربانه وروره:موږشکرتردغه ګړیه روغواو جوړیو. ستاسي جوړتیااوخوشحالي هم زموږ دټوله کورنۍ غوښتنه ده.ته چي دکابل پوهنتون ته تللی ئې،بیا دي موږته دغه څلورمیاشتي کیږي لیک دي نه دی رالیږلی.موږستادلیک په امید دانتظارشپې سباکوو.ګران پلارهم وهرات ولایت ته په خپلوکاروروپسي تللی دی.نوګراني مورمي زما څخه هیله وکړه چي زه لیک درته ولیکم.څرنګه چي زه اوس داحمدشاه بابا دټولني دعبدالحي حبیبي دښوونځی دڅلورم ټولګی زده کونکی یم،نوکولای شم چي څه،ناڅه دډاډ لیک تاته درولیږم.ددې لیک ددرسیدوسره سم ټوله کورنۍ ستا څخه هیله کوي ،چی ته هم خپل لیک دموراو کورنۍ دډاډدپاره راواستوې.اودخپلودرسونواو پوهنتون په باب موږته بشپړه معلومات را ولیږې.

کامیابه اوسې ستاکشرورور بریالی.



د طب پوهنځی



کابل پوهنتون

# پښتني غرور

ســــرراته د شـــعـــــر چي مــي بلبلي سي
ورکـــــــي مـــــــي د زړه دغــم غــزلي سي
زړه چي څــــــه رسواپه کښي خپل ځان ويني
نـــوري ئـــــې مسرئ په کښي مجـهولي سي
ويـــنـــه مي دزړه چي پرې را څـــاڅکي سي
ښـــې په کښي رنګـــيـنـي مي بد لــــــي سي
راکــــړه پښتـــنــــي څــنــوته وړمــــه ګل
څـــــــوکي د کوڅـــيـــو به مي ښکلي سي
لـــــومـــــړئ ځـــي ترسره پښتني غــــرور
يادچـــــي کــــې زلـــمـــي اوخـــپـــل ښاغلي سي

**شاعره:کريمه فيض زاده رسولي**

# کتاب

کتاب ډيرښه دوست دئ،که يوڅوک دمسافرئ په هوډدخپل کوراوکلي څخه ليرې روان وي اودسفر په نيت ديوې سيمي څخه وبلی سيمی ته دسفرپه حال کي ياپه موټرکې ياپه اور ګاډئ اوياهم دالوتکي په وسيله دسفرپه نيت وتلی وي،نوپه يوازې توب کې دسفرپه لنډولوکې کتاب پورمرسته دمسافر سره

کو لای سي.اودلاری پوره ملګری ئې کیدای سي.په همدغه ډول په کوراویادکورڅخه دباندي په یوازی توب کښي موږ.کولای سو،چي خپل دایمي ملګري (کتاب) ته مراجعه وکړو.اومرسته ځینی واخلو.ترڅووخت موګټوراوخوشحاله تیرسي.

کتاب نه یوازي دژوندملګری دی بلکي؛دژوندلاربنودهم دی. زموږ.سره دستونزوپه وخت کي مرسته کوي،موږ.ته نوي دژوند لاري راپه ګوته کوي،موږ.ته هغه څه رابنوي چي:موږ.پرې نه پوهیږ.واوپه ورځني ژوندکښي ورسره لاس اوګریوان یو.دکتاب په مرسته انسانانوخپل انساني ژونددحیواني نړۍ څخه بیل کړی دی.اوپه خپله شاوخوابانديي دعلم اوکتاب په مرسته پوره خبر سوه.هرکتاب دپرله پسې تجریبوڅخه په لاس راځي.چي له کبله ئې پوهي اوتجریبې دیوه نسل څخه وبل نسل ته پاته کیږ.ي. اوزموږ.پوبنتنوته ځوابونه ورکوي،که په خپله شاوخواکي موږ.وګورو،نووبه وینوچی ډیرشیان شته،چی ترډیره وخته ئې حالات نا معلوم وه.دبیلګې په توګه : انسانان نه پوهیده چی ولي یوه ډبره چی پورته وغورځوې دمځکي وخواته رالویږ.ي؟،ولي لمرراخیژي؟،ولی اوبه ټول عمرپرکښته روانی وي؟، سپوږ.مۍ څشي ده؟.اوداسي نوری په زرهاوپوبنتني شته.چي جواب ئې یوازي په کتاب او کتابونو کښي موندل کیږ.ي.نوپه همدغه دلیل کتاب زموږ.ډیربنه ملګری دی.وایوچي کتاب دژوندلاربنود

دی. کتاب هغه څراغ دی چي په تاریکو کښي موږ ته لاره را ښوي،نو دکتاب سره مینه ډېره ښه ده.

## کتاب څه وائي؟

بیله مادي ژوندون نسته    هم له مادی بیلتون نسته
چي په ژوند وي نا خبره    هم په دې کې دلیل نسته
زه بې جانه اوبې ساه یم    وفـــادارملګـــری ستا یم
بیله ما دي ژوندون څه دی؟    بیله ما دی کاروان څه دی؟
مـــاله ځـــان سره لره ته    پـــه مـــا تل با ور کوه ته
دســـفـــرملګـــری ستا یم    ستا دســوال ځــواب هم زه یم
بیله مادي بل مضمون نسته    ستا کاروان کی هم یون نسته
هـــر کتاب یوځـلـــي لـــوله    په لـــــوستو کـــې تاوان نسته
زه اوس دومره پوهیدلی    بـــیـــله علـمـــه شـــرمید لی
بې کتابه ژوندون نسته    په لــــوستلـــو کي ئې شـــرنسته
انسانان که ډیرمحتاج وه    پـــــرتـــاریکـــه خوا روان وه
لاره چا کـــړله روښانه    چـــی ئـــې وکښل کـتـــابـــونه
تجریبو ثابته کړې پرکتاب نویشته سوې
زه ننګیال بڅرکی یا ر د ښه کتاب یم

# دمشرانو درناوی

امید یوښه هلک دی،هغه هروخت دمشرانودرناوی کوي.کله چي سهاردخوبه څخه پاڅیږي،نودکورنۍ وټول مشرانوته سلام وړاندی کوي.اوبیا ښوونځۍ ته روانیږي،په لاره کي ومشرانو ته احترام کوي،هرمشرته سلام وراچوي.امیدد ګڼي ګوڼي په وخت کی نوبت په پام کی نیسي.په سرویس یاموټرکي دموټر چوکۍ وسپین ږیرومشرانواوناروغانوته ورایله کوي.یوه ورځ په موټرکي یوه ښځه ولاړه وه،اویو کوچنی ئې په غیږکي نیولی ؤ.ډیره په تکلیف وه،خوڅه وخت چي دامید سترګی پرولګیدې، نوسمدلاسه ئې هغه خپله چوکۍ وهغه ښځي ته ورخوشی کړل، نودموټرنوروسپرلیوافرین ورته ووایه.امیدپه ښوونځی کښي هم دښوونکي اونورومشرانودرناوی کوي. څه وخت چي ښوونکی وښوونځی ته راننوزي،نوامیدورته ولاړیږي.اوښوونکی هم وامیدته په تهذیب کښي بشپړه نمرې ورکوي.امیدخپل کتابونه اوکتابچې پاکی ساتي هغه خپلو کتابونوته پوښوراچوي ترڅود خپل کتاب څخه دډیروخت دپاره ګټه واخلي اوهمدغسي څه وخت چي دهغه ټولګی څخه بلي ټولګی ته بریالی کیږي نونوموړی کتابونه خپلونوروزده کونکو ته پاک اوستره ورتسلیموي.همدغسي دخپلوکتابچوڅخه ترهغه وخته ګټه اخلي چي ټوله کتابچه ئې پوره ډکه سوه.امیدپه لاره کي کاغذونه اونورفالتوشیان نه غورځوي، داځکه چي هغه کور،ښوونځی

او خپل هیوادپاک ساتي.او که په لاره کی بیځایه یوه ډبره اویا هغه څه چي لاره ئې نیولې وي، هغه دلاری څخه لیري کوي، ترڅو دیوه پلوه لاره پاکه وساتل سي او دبله پلو دیوچا پښه په نوموړي ډبره یا لرګی کي بنده نه سي اوغوځارنه سي. امیدهغه هلکانوته نصیحت کوی چي په ربړباندي مرغان ښکاروي اودژونده څخه ئې محرومه کوي،امیددغه نصحیت دخپل پلاراومورڅخه اوریدلی دی،چی مرغان دطبعیت ښکلاده اوزموږ دانسانی ژوند یوه برخه ده.اوزموږسره یوځای دژوند کولوحق لري،باید ښکارنه سي اودژونده څخه محرومه نه سي،حتاباید دحیواناتواومرغانوسره مرسته هم وسي،ترڅو مرغان اونورحیوانات دانسانانوپه څیردخپل نسل دساتلو دپاره کاروکړي.امید دګلانو شوق هم لري او یولړ ګلان ئې په ګلدانۍ او دباغچي په مځکه کي کرلي دی.امید دتفریح په وخت کي په خپلوګلانوبوخت وي.هغه خپلوګلانوته اوبه ورکوی اوتراوتازه ئې ساتي نوځکه دامیددګلدانۍ ګلان ټول وخت تراوتازه وي. امیددبازارناولی میوې نه خوري ځکه پرمیوباندي دوړي پرتې وي اودصحت دپاره تاوان پیښوي.نوځکه چی هر وخت دبازاره څخه میوه را نیسي نو سمدلاسه ئې پریولي.

**تمرین: ښاغلی ښوونکی دي دامید ځانګړني بیرته په زده کونکو تکرارکړي.تر څودامید هغه ښه ځانګړني زده کونکي زده کړي.**

# دخوړودخوړلوادب

انسانان دژوندپه چارو کي هر څه ته يو نظم او ترتيب لري.چي په دې چارو کي يو هم دډوډۍ خوړلوادب دی.کله چي موږ دستر خوان ته دډوډۍ خوړلو دپاره ورولاړيږو،نولومړی لاسونه مينځواوبيا د د سترخوان په يوه خوا کښني په سم ډول چارزانوکښينو.اوګوروچی مشرانوپه ډوډۍ خوړلوپيل وکی، نو موږ هم په ډوډۍ خوړلوپيل کوو،ډوډۍ په کرارکرارخوروا وښه ئې ژويو،چي دهضم سره دډوډۍ ښه ژول مرسته کوي اوغاښونه په خوله کي دژرندي په څيرخواړه ميده کوي،چی بيايه نس کي تکليف نه را منځته کوي.دډوډی خوړلوپه وخت کي دډيروخبروڅخه ډه،ډه کوو.ځودنورودپاره دتکليف سبب نه سو.دډوډي خوړلوپه وخت کښي يوازي دخپل لوري ډوډۍ را اخلو،دبل چاه دمخه څخه ډوډۍ يا خواړه نه راکشوو.دډوډۍ په وخت کي دبل چاومختته که کوم خواړه لږپراته وي،خوزموږمخ ته ډيرپراته وي،نوسمدلاسه هغه ورسره شريکوو،کله چی موډوډۍ وخوړل،نوبيا لاسونه اوخوله بيرته پريمينځو، څو لاسونه اوخوله مودغوړزګينوموادوڅخه پاکه سي .

---

**تمرين:ښوونکی دي دډوډۍ خوړلودادب په باب دزده کونکو سره خبري وکړي. اولغاتونه دې ورته معنا کړي.**



## دبزګر غږ

زه بزګرستا خد متکاریم،ماستاسو دپاره شپه اوورځ پرځان یوه کړې ده.دمځکي نس مې څیرلی دی،دژمي په یخونوکي دشپي په ناوخته کي داوبولښتي پاک کړي دي اواوبه مي ترخپله کښته رارسولي دي.مځکي اوغنم مي پرې اوبه کړي دي،ماته خپل کښت ګران دی،زه دسپیروخاوروڅخه سمسورکښت جوړوم. ماته دسهارمرغان دخوشحالۍ ترانې وائي.او ددوی ترانې ماته دزړه قوت را بخښي.زه هم ویاړم،زه دطبیعت ښکلا دخپل لاس محصول بولم،دغه زمالاسته راوړنه ده.شپه اوورځ کار کوم، زه پوهیږم.چی طبعت زما ستاینه کوي،زه پوهیږم چي دهوا مرغان زماسره مینه لري،زه پوهیږم چي ډیروحیواناتو لکه: غوا،غوائي،خره،آس،،سپي زماسره مرسته اعلان کړې ده. خوزما ګیله یوازی دخپلوانسانانوڅخه ده.زه دخپلوانسانانو څخه ډیرڅه هم نه غواړم.یوازي اویوازي غواړم چي زما دکارقد ر وکړي.مادي دغریبۍ په ترازونه تلي،ماته دیوه فعاله انسان په سترګه وګوري،اوزما دهنراوکسب احترام هغه وخت کیدای

سي، چی ماته دخپل کاراودخپلو لاسته راوړنوڅخه هغومره حق را کړی ،کوم چي زه اوزما کورنۍ دقرضدارۍ څخه خلاص سو.نوځکه زه دخپل انسان څخه دغه ګيله کوم،چي زما قد ر يوازي ته نه لري.اوبس

## مرغۍ

دغه باغ په ما ښايسته دی هريورنګ می ګلدسته دی
زماآوازهرچاخوښ کړی هم ئـــې غوږ راته نيولی
زه ښـــايسته مرغــــۍ يم په خپل رنـــګ کی بلبلۍ يم
پرښاخـــونو چي کښينمه په خپل شوق غـــزلی کړمه
زه چــــی ځالـــه جوړومه پرلـــوړښاخ به ئې ساتمه
دهـــګيـــو ډ کـه ځـالـــه خپل چيچيان په کښي روزمه
ميوي ډکي وي ددرخـــتـــو مـا لـيـد لـــي دي دوخـتـو
پرهرښاخ چي زه کښينمه خپل ريـزونـــه پـــر کـــومه
زه دباغ ښکلې مرغۍ يم ډ يره ښکـــلې او کـــوچنۍ يم
دکـــفس څـــخــــه بـيـريږم چــــي کفس کی بندي کيږم
زما شوقيانوته زه وايم که بندی سم نو مړه کـيـــږم
ماآزاده له زندان کړی له زنـــدانه څـــه بـيـــريږم

زه ددرختوپه سروکښې ترانې وایم په باغــو کښې
زماوجوددی په درورنګو هم ښایسته یم په څــورنګو
دننګیال بڅرکی خوښه تــوتکې ده
څکه بې آزاره اودوه تاره ئې لکۍ ده

**نا و کۍ**

دامي جوړه کړې ناوکۍ ده ښایسته ده او کوچنۍ ده
زرغونه کالي په اغوندم نــــورې هم ښایسته کوم
سترګې تکی شنې دي شــــونډ ې تکي سرې دي
توري زلفي ښایسې لري پرمـخ باندې خورې لري
سره ئې باړخوګان دي توري زلفی ئې ماران دي
په غاړه کې امیل دی پرڅیګرئې را برسیردی
جګه لوړه لکه ونه ده نــریۍ ښایسته ئې زنه ده
داپرنجونوډیره ګرانه ده په قیمت کی که ارزانه ده
مورپه دې بازۍ کــوو په خپل کورکي ئې سا تور
ددې به بیا واده سي بیا دنـــجونوبه میله سی بیا
په واده ئې خبرومه ټول زه پــــر کورراټولومه ټول
یوه ګوتمۍ ورجوړومه زه وه واده ته ئــــې ساتمه زه

چي پرکورجوړه میله ده نن داد مـــــورپه اجازه د نن
هلکان به نه پریږدم دلته نجـــــوني ټوله را بلم د لته
دامیله د نــجونو ده
دهرچا پرکورونه ده

## دبې پروائي نتیجه

یوه ورځ کشیپ اوسوی په خپل منځ کي یوشرط سره کښېښود.چي دغره سرته به ته ژر خیژې او که زه؟. سوی او کشیپ دواړو شرط قبول کړ،نوئې په مسابقه پیل وکړ.سوی چي بې پرواوه،فکرئې وکړچي زه خوپه وزن سپکه اوپه پښوچابکه یم.پریږده چی کشیپ حرکت وکړي،بیله هغه هم ترما تر مخه غره ته نه سي ختلای.اونه مسابقه ګټلای سي.نوپه بیغورۍ سره سوی پریوتی.اوخوب یووړی،کشیپ فکروکړی چي زه هم په وزن سره درندیم او هم می پښې لنډي دي،نو راسه چي حرکت وکړم،نوسمدلاسه کشیف په چټکۍ سره حرکت وکړی.اوډیرژردغره وسرته په حرکت کی شؤ.تر څو دغره وسرته وخوت.اوپه خپل مرام کي بریالی شؤ.خوسوی دغفلت په خوب بیده ؤ،چي راویښه سو؛که ګوري چي کشیف دغره پرسرورته ناست دی.اولوبه ئې ګټلې ده،سوی په مایوسۍ او ارمان سره کښیناست.



سوی



کشیپ

# ټوکه

یوه ورځ یوه کوچنی ماشوم دلمبیدوپه خاطریوې لوې ویالې ته ځان ورواچاوه.دویالې اوبه ډیري وې،هلک ئې دغرقیدو وخواته ورنژدې کړ.هلک په ناروپیل وکړ.او ناری ئې کړې : دخدای پاردی غرقیږم درومي باسی،په دې وخت کي یولاروی سړی تیریده.اوهلک ئې ولیدی،چي دغرقیدوپه حالت کښي پښې اولاسونه وهي.ډیرنژدې دی چي بشپړه غرق شي.خولاروی ئې وخواته رانژدې شو.اودهلک په ملامتولوئې پیل وکړ،هلک په وارخطائي ورغږ(ږغ) کړه؛ته اوس مامه ملامتوه اوژرمایو ځل دروباسه،بیابه وروسته دملامتیا خبري سره کوو.ژرسه لاس راکړه اودرکش مي کړه.هلک په زاریواوعذرسره خپلي بغاري اوناري نوري هم ډیري کړې ،چي ژرمي دروباسه لومړی دمرګ څخه نجات را کړه،چي زه نجات پیداکړم بیا به نووروسته خبري سره کوو. چي زه څومره ملامت یم ،ژرسه لاس را کړه، ژرسه لاس را کړه. وروسته سړي فکروکی چي

هلک راڅخه غرق نه سي نو ئې پر خپل پټویوه ډبره غوټه کړه او دهلک وخواته ئې وروغورځول، اوهلک هم سمدلاسه دپټو لوري ته ورزوررونه کړه اودپټوڅوکه ئې ونیول اوسړي هلک دځان خواته راکش کړ، هلک داوبو څخه را وخوت .او دسړی څخه ئې مننه وکړه.اودځانه سره ئې واعده وکړه، چی بیابه ډیرواوبوته نه ورلویږي.

## نوی پسرلی

نوی کال نوې وږمه دپسرلي ده

نوی موسم ،نوې روښنائي ده

هری خواته شنې سولې باغچې

پر هرلوري مستي سوي وې ویالې

ښکلي ، ښکلي ئې ننداري دي

ښکلي ،ښکلي ئې منظرې دي

ځوانان وشنو باغو ته ځي

پیغلي هم وګــد رو ته ځي

طبعت هم نوي ګلان وسپړل

باغوان هم تخمونه وکـــر ل

دونوشګفه نوي غوټۍ نوې تازګي ده

دژوندنوې زمانه وانسان ته زنده ګي ده
نوی سؤ وکښت ته د بزګرارمان
نوي سول فکرونه نوی دامید کاروان
نوي موفکرونه نوي موخیالونه سوه
نوی پسرلی سو نوي آوازونه سوه
هغه مست شپونکي شپیلۍ را سر کړله
مسته ئې نغمه کړله، مسته ئې رمه کړله
دلته جوړدی پردې خاوره د کلنودآرمان بهار
دلته جوړدی دخوبونو دیوخوب آرمان
دلته دخزان او توفانونودتوفان پایان
داسپرلی ومــــــــوږته نن پیغام لري
افغان ولس ته دخوښیولوړپیمان لري
نوی سو حالت دنوي ژوند مبارکي ده
دلته موپرته زموږدژوند لویه هستي ده
غــــــواړوموږدنوي کال دپسرلي څخه
ښکلی کال نوی آرمان نوې زنده ګي ده
تیرسول تاریخونه په جنګونه کې زموږ

پاته سوله نښانونه په درو کښي زموږ
نوی مونښان سپنه کوتره ده
دانښان به ساتو چی بهتره ده
دننګیال بڅرکي لوړآرمان دسولي دی
مخ پر وړاندي دانګــودامو لوری دی

## لمر

لمردخپل نظام ترټولو غټه سیاره اوروښانه جسم دی،لمر نور ستوري په ځان اوشاه وخواکښي ساتي،لمرنوروستوروته روښنائي ورکوي.همدغه مځکه چي موږژوندپرکوو،یودهغه ستورودجملې څخه ده،چي دلمرپرشاه وخوار اګرځي.اوموږ ورته انسانی نړی وایو،زموږداډول انسانی نړیَ ددؤډولو شیانو یاڅیزونوڅخه جوړه ده.چي یوئې ژوندي څیزونه دي اوبل ئې غیری ژوندي څیزونه دي.ژوندي څیزونه ئې هغه څه دي چي هغه ژوندلري،حرکت کوي،لؤیږي(غټیږي)اوخواړه خوري. خوابل ډول څیزونه هغه دي چی حرکت نه کوي،ژوندنه لري اوخواړه هم نه خوري.چی په دغه سبب غیري ژوندي څیزونه ورته وایو.هغه څیزونه چي ژوند کوی دلمروتودخي اودلمر وړانګوته ضرورت لري.چي بیله دلمردوړانګوڅخه ئې ژوند ناممکن دی.لکه حیوانات، نباتات او هغه ژوي چي په اوبوکښي ژوندکوي.لمریوه لویه داوراوتودوخي هغه کتله ده چي دمځکي

ژوي ئې دتباه کونکي يخ څخه راګرځولی دي.اوپرمځکه باندي په کال کي څلورډوله موسمه راولي،چي داهم دمځکی دانتقالي حرکت اودمځکی دوضعي حرکت په نتيجه کی دغه څلورفصله راپيداکيږي.وضعي حرکت:چي مځکه پرخپل شاه وخوارا ګرځي.انتقالي حرکت : هغه حرکت دی چي مځکه دلمرپرشاه وخوارا ګرځي.

## مځکه

مځکه دلمردنظام دستوروله ډلي څخه ده.چي په(۳۶۵) ورځو او(۶)ساعتوکي يوځل دلمرپرشاوخواباندي راګرځي،چي دې حرکت ته اتقالي حرکت دمځکی وائي.اوددې ډوله حرکت څخه څلورفصله پيداکيږي.لکه:پسرلی،دوبی،منی اوژمی.اومځکه په (۲۴) ساعتو کي يوځل پرخپل شاوخواباندی را ګرځي.چي دې حرکت ته محوری حرکت وائې.چي په محوري حرکت سره دمځکي شپه اوورځ منځ ته راځي.مځکه خپله روښنائي نه لري،خودلمر څخه خپله روښنا ئي ترلاسه کوي.مځکه هوااو نورغازونه لري،نوځکه ژوندي موجودات په کښي ژوند کولای شي.مځکه يوه سپوږمۍ هم لري،چي ومځکي ته روښنا ئي ورکوي.اودسپوږمۍ روښنائي موږ په شپه کي ليدلای سو،خوپه ورځ کې ځکه نه سوليدلای چي دلمرروښنائي دسپوږمۍ ترروښنائي ډيره ده. مځکه ګردۍ ثابته سوې ده،چی تر ډيره وخته دغه مفکوره موجوده نه وه.اومځکه ئې يوه هواره سطحه

تصورکول،خووروسته علم پراخ شو.اوپه لومړی ځل دیونان یوریاضي پوه (فیثاغورث)دمځکي دګردیوالي مفکوره را منځته کړه.اوبیا دفیثاغورث وروسته دیونان بل نامتو فیلسوف (ارسطو) ۳۵۰ق م دفیثاغورث دغه نظریه تا ئید کړه. خوپر طبعت اومځکي باندي نوره څیړنه هم روانه ده ترڅوقدم په قدم انسانان دمځکي او طبعت په رازونو وپوهیږي.

## ښکلې پیشي

زه ښکـــلې پیشي یم   نا سته پـــر لرګـي یم

هره ورځ میو،میولرم   پسته لکۍ مي ښوروم

مینه ناکه مینه کړم   نـــژدي د رتـــه را ځـــم

کله،ناکله غـــلا کوم   کـــله بیا زه ښکار کـــوم

زه ښکـلــــې پیشي یم   وسیله دساتـــیـــري یم

ډیــره زه چـــالاکــه یم   پرهـردیـوال روانه یم

کوچنیان را باندی ګران دی   پردوی باندي هم ګرانه یم

اوږده دمار لکۍ لرم   هغه ښکلی پستکۍ لرم

ځــــم پر د یوالـــوبا ند ي   دیوکورڅه پربل کورباندي

وهـــــر کورته ورځمه زه   مـــوږکان پیداکـــومه زه

دښمنه دموږک یم زه   وښکار تې په خیزک یم زه

دسپیانو څه بیریږم زه    هرځای ځیني پټیږم زه

کله چي مي ویني سپیان    دیوال ته ځیني خیژم زه

دسپیانو کورته نه ورځم    ډیره ځیـنـــي بیریږم زه

نیسمه چوغکه اوکوتره زه    ودوی ته تربلا یم بدتره زه

په پټه خوله بیا غلا کوم    په غـــلا کـــي زه بلا کـــوم

پرکوم کور چی اموخته یم زه    غلانه کړم نازدانه یم زه

پـــرنـــري دیـــوال روانه یـــم    چـــالاکـه پـــهـــلوانـــه یم

پرکـــــوم کورچي امـــوختـــه یم    هلـتـــه زه ویـــــده یـــــم

چـــاپلـــوسه غـــوړمـــالـــه یم    پرهـرچـاباندي ګـــرانه یم

وچــــه ډوډی نـــه خـــورمـــه    غوړه ډوډئ ښـه خـورمه

غـــوښي مـــي خـــوښـــیږي    غـــوښـــي نه را پیدا کیږي

دامـــتـــل پرما جـوړسـوی دی    هـــرچـــاه اوریـــد لـــی دی

دپیښي غـــوښي خـــوښیږي    چي ایمان ئـــې پرراوړی دی

**شاعر: ننګیالی بڅرکی**



**پیشي دموږک دښمنه ده**

متلونه دیوي ټولني دپوهي اوعقل دژورتیاښکارندوي دي او د نومورړي ټولني،تهذیب،تمدن،کلتوراوفرهنګ ځرګندوي. متلونه دیوي ټولني دپیړیومیراث دي.دټولني ستونزي اوجنګونه په معقولومتلونوباندي حل کیږي.نودلته تاسي ته دمتلونوځیني بیلګي وړاندي کووم. امید چي ګټه ځیني واخلی.

- ددروغو منزل لنډ دی یا دروغجن دي درواغ وائي ریښتاګویه دې قیاس کوي.

- سوخند رکی چي غورځي،دموږي په زورغورځي.

-افسوس چي میږي اولیوان په یوه ځاي کې اوبه څښي.

-اختر چي تیر شي نکروزي په دیوال وټپه.

-ارمان به کړي هلکه بیابه نه مومي ادکه.

- تیغ دپیاز کاږي اوخبري دغورمې کوي.

-آسان ئې نالونه چنګښوهم پښې پورته کړي.

- میږي ته چي خدای په قهرسي نووزرونه وکړي.

- دشپوږي نوم باجه خانه مه ایږده .

- لمرپه دوګوتو نه پټیږي

-اعتبار په علم اوادب دی، نه په مال اوپه نسب.

- کورنګه چي ړنده سوه ښايسته سوه.

-الم ترکيف دهرچازده دی.خوخوله دملاعثمان غواړي.

- هرځای چي سورږيری ووينې نووايي ملاشاه ګل ده.

- ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.

-مه دومره خوږ شه چي څوک دی وخوري او مه دومره تريخ شه چي څوک دي وغورځوي.

-انسان تر کاڼي کلک تر ګل نازک دی.

- مه کوه په ما چي وبه سي په تا.

-اوبه چي له سره جګي شي څه يوه نيزه څه دوې نيزي.

-اوښ ته چاويل چی غاړه دي کږه ده اوښ ويل کوم ځای مي سم دی.

- چي نيت دي دی دتله نو ناسته دي پر څه؟.

- چي جنګ سوړسو ميری تودسو يا دجنګ خوږې خبري ساعت ئې تريخ دی.

- په يوه ګل نه پسرلی کيږي.ياګل اوسې خوعمردي دګل مه سه.

دچاه عيب مه وايه چي عيب دي ونه ويل شي.

ـ شرمښکی دمارسره غزیدل پرمنځ دوه ځایه سوه.

ـ تا کتله ماته ماکتله تاته کارسوترمنځ پاته.

ـ بې زحمته راحت نسته. دیوه لاسه ټک نه خیژي.

ـ پوره ورک دي کړل دوه کوره .

ـ پرزرد که نه یم ، پر دغه خرپ ئې یم .

ـ دزمرو جنګ دلیري خوند کوي.

ـ وګیدړی ته دغه خپله لکۍ غضب ده.

په بهرنیوژبوکي هم متلونه شته چي دهغه خلکو یاسیمومال دی.

لکه : که سوله غواړی نوجګړی ته ځان تیارکه (لاتینی مت)

ـ جګړه له لیری ښایسته ښکاری . (هسپانوی متل)
ـ یورښتین بیعقل ترسلودرواغجنانوهوښیارانوغوره دی.
(چینا یې متل ).
ـ د ځنځیرقوت په کمزوري کړۍ کې دی.( کاناډایې متل)
ـ که لیوه قاضی وي درمې دې خدای مل سی.(ډنمارکی متل).
اوداسي نورهم په مختلیفوژبواوسیموکي سته چي دډیروغټو پرابلمودحلولوپه وخت کي کارځیني اخیستل کیږي.

# دنړۍ دځیرومهموهیوادونودپایتختونومونه

| شماره | دهیواد نوم | پایتخت | موقیعت |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | افغانستان | کابل | آسیا |
| ۲ | پاکستان | اسلام اباد | آسیا |
| ۳ | ایران | تهران | آسیا |
| ۴ | تاجکستان | دوشنبې | آسیا |
| ۵ | ازبکستان | تاشکند | آسیا |
| ۶ | هندوستان | ډهلی | آسیا |
| ۷ | بنګلدیش | ډاکه | آسیا |
| ۸ | اعراق | بغداد | آسیا |
| ۹ | عربستان | ریاض | آسیا |
| ۱۰ | سوریه | دمشق | آسیا |
| ۱۱ | اسرائیل | تل حبیب | آسیا |
| ۱۲ | چین | پیکینګ | آسیا |
| ۱۳ | ویتنام | هانوی | آسیا |
| ۱۴ | جاپان | توکیو | آسیا |
| ۱۵ | ترکمنستان | عشق اباد | آسیا |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۶ | هالینډ | امستردام | اروپا |
| ۱۷ | جرمني | برلین | اروپا |
| ۱۸ | فرانسه | پاریس | اروپا |
| ۱۹ | انګلیستان | لندن | اروپا |
| ۲۰ | روسیه | ماسکو | اروپا |
| ۲۱ | ډنمارک | کوپنهاګن | اروپا |
| ۲۲ | ترکیه | انقره | اروپاه |
| ۲۳ | بلغاریا | صوفیه | اروپا |
| ۲۴ | ایټالیا | روم | اروپا |
| ۲۵ | یونان | اتن | اروپا |
| ۲۶ | رومانیا | بخاریست | اروپا |
| ۲۷ | پولنډ | وارسأ | اروپا |
| ۲۸ | هنګري | بوداپست | اروپا |
| ۲۹ | رومانیا | بخاریست | اروپا |
| ۳۰ | سویډن | ستاکهلم | اروپا |
| ۳۱ | ناروې | اسلو | اروپا |
| ۳۲ | هسپانیا | ماډرېډ | اروپا |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۳ | الجزاير | الجزيره | افريقا |
| ۳۴ | سوډان | خرطوم | افريقا |
| ۳۵ | ليبيا | طرابليس | افريقا |
| ۳۶ | انګولا | لوندا | افريقا |
| ۳۷ | سومالې | موګاديشو | افريقا |
| ۳۸ | اتيوپي | اديسه آبابا | افريقا |
| ۳۹ | مصر | قاهره | افريقا |
| ۴۰ | مراکش | مراکش | افريقا |
| ۴۱ | افريقا جنوبي | پريتوريا | افريقا |
| ۴۲ | کنګو | کنيشاسا | افريقا |
| ۴۵ | تانزانيا | دارالسلام | افريقا |
| ۴۶ | زامبيا | لوساکا | افريقا |
| ۴۷ | نيجيريا | ابويا | افريقا |
| ۴۸ | موزنبيک | مابتوتو | افريقا |
| ۴۹ | کامرون | ياونده | افريقا |
| ۵۰ | کنيا | نايروبي | افريقا |
| ۵۱ | موريتانى | نواکشوت | افريقا |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۵۲ | اضلاع متحده امريکا | واشنګټن | امريکا |
| ۵۳ | کاناډا | اټاوا | امريکا |
| ۵۴ | چيلي | سنتياګو | امريکا |
| ۵۵ | مکزيک | مکرنيکوسيټي | امريکا |
| ۵۶ | کوبا | هاوانا | امريکا |
| ۵۷ | پانامه | پانامه | امريکا |
| ۵۸ | نيکارا ګوا | مانا ګوا | امريکا |
| ۵۹ | سلوادور | سلوادور | امريکا |
| ۶۰ | برازيل | برازيليا | امريکا |
| ۶۱ | پيرو | ليما | امريکا |
| ۶۲ | ارجنټاين | بيونس آيرس | امريکا |
| ۶۳ | پاراګوا | آسيوس | امريکا |
| ۶۴ | وينزويلا | کاراکاس | امريکا |
| ۶۵ | کولمبيا | بوګوتا | امريکا |
| ۶۶ | ګوينا | | |
| ۶۷ | سورينام | پارا مابيو | امريکا |
| ۶۸ | هيټي | هوتوسايا | امريکا |

# په افغانستان کښي دکال ددولسومیاشتوپښتواوپیژندل سوي عربي نومونه

| پښتونوم | عربي نوم | دکال موسم |
|---|---|---|
| وری | حمل | پسرلی |
| غویی | ثور | پسرلی |
| غبرګولی | جوزا | پسرلی |
| چنګاښ | سرطان | دوبی |
| زمری | اسد | دوبی |
| وږی | سنبله | دوبی |
| تله | میزان | منی |
| لړم | عقرب | منی |
| لیندۍ | قوس | منی |
| مرغومی | جدي | ژمی |
| سلواغه | دلوه | ژمی |
| کب | حوت | ژمی |

**تمرین :ښوونکی صاحب دي دکال موسمونه اودمیاشتوپښتواوعربي نومونه دمعناسره په تکرارکړي.**